Social Science
AcademicJournal

لیډ د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د نسل تحدید تنظیم او القاح د اسلام له نظره

**شیخ الحدیث والتفسیر الحاج مولوی غلام نبی (حامدی)**
اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، هلمند پوهنتون، هلمند، افغانستان
ایمیل: Shakhsahib073@gamil.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۹/۱۰ ، منل سوې:۱۴۰۴/۱۲/۱۹، خپره سوې: ۱۴۰۴/۱۲/۲۹، مخونه: ۱۲۸-۱۴۴

**لنډیز**

دا مقاله د نسل د تحدید، تنظیم او القاح مسئلې د اسلامي لید لوري له مخې څېړي. د نسل بقا د الهي نظام مهمه برخه ده، خو د بېلابېلو ټولنیزو او طبي لاملونو له امله د نسل تنظیم موضوع د بحث وړ ګرځېدلې ده. اسلام په دې اړه منځنی او متوازن دریځ لري؛ نه یې مطلق ردوي او نه یې بې قیده مني. د مور د صحت ساتنه، د ماشومانو د روزنې وړتیا او د مناسب وخت پورې ځنډول مشروع دلیلونه بلل سوي دي. خو که هدف د تقدیر څخه تېښته یا د اولاد کرکه وي، ناروا ګڼل کیږي. د قرآن، سنت او فقهي اجتهاداتو له مخې حکم د نیت او طریقې له مخې بدلېږي؛ موقتي طبي وسایل روا، خو دایمي عقیم کول ناسم دي.

**کلیدي کلمې:** اسلام، القاح، تنظیم، تحدید، نسل.

# Birth Control, Family Planning, and Artificial Insemination from an Islamic Perspective

**Shaykh al-Hadith wa al-Tafsir Al-Hajj Mawlawi Ghulam Nabi (Hamidi)**
Department of Islamic culture, Faculty of Sharai'h, Helmand university, Helmand-Afghanistan
Email: Shakhsahib073@gamil.com

**Abstract**

This article examines the issues of birth limitation, family planning, and fertilization from an Islamic perspective. The continuation of human lineage is an essential part of the divine system, yet due to social and medical reasons, family planning has become a subject of discussion. Islam adopts a balanced position, neither absolutely rejecting nor unconditionally permitting it. Legitimate reasons include protecting the mother's health, ensuring proper child upbringing, and postponing childbirth for a suitable time. However, if the intention is to escape divine decree or dislike children, it is considered impermissible. Based on the Qur'an, Sunnah, and juristic reasoning, the ruling depends on intention and method; temporary medical means are allowed, while permanent sterilization is prohibited.

**Keywords**: Islam, Birth Control, Family Planning, Artificial Insemination,Reproduction.

## سریزه

الحمد لله ربّ العالمین، والصلاة والسلام علی سیدنا محمد، وعلی آله وصحبه أجمعین.

نسل، اولاد او د انسان بقا د الهي نظام له مهمو مقاصدو څخه دي، چې الله تعالی د بشري ژوند د دوام، د ځمکې د آبادۍ او د ټولنیز توازن د ساتنې لپاره مقرر کړي دي. اسلام د نکاح، اولاد زېږولو او د نسل

د زياتوالي ځانګړې اهتمام کړی، ځکه چي دا د شريعت له اساسي مقاصدو (مقاصد الشريعة) څخه د حفظ النسل تر عنوان لاندي راځي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنْ أَزْوَاجِكُم بَنِينَ وَحَفَدَةً﴾ (النحل: 72)

ژباړه: «او الله تعالی ستاسو لپاره له تاسو څخه جوړې (مېرمني) وګرځولې، او له همدغو مېرمنو څخه يې تاسو ته زامن او لمسيان درکړل.»

اورسول الله ﷺ فرمايلي دي: «تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ» (رواه أبو داود والنسائي)

ژباړه: «له مينه ناکو او ډېر اولاد زېږوونکو ښځو سره نکاح وکړئ، ځکه زه به ستاسو په ډېرښت سره د نورو امتونو په وړاندي وياړ کوم.»

خو د انساني ژوند له پرمختګ، طبي پرمختللو وسايلو، اقتصادي ستونزو او ټولنيزو بدلونونو سره د نسل تنظيم، نسل تحديد او مصنوعي القاح موضوعات د معاصري فقهي څېړني له مهمو مسئلو څخه ګرځېدلي دي. دا موضوعات داسي دي چي هم د فردي ژوند سره تړاو لري او هم د کورنۍ، ټولني او امت پر جوړښت ژور اغېز لري. اسلام د اعتدال، اسانتيا او مصلحت دين دی؛ له همدې امله يې د نسل د مطلق مخنيوي (تحديد النسل) او د مؤقت تنظيم (تنظيم النسل) ترمنځ واضح توپير کړی دی. فقهاوو د احاديثو په رڼا کي د عزل جواز د ځانګړو شرايطو سره ثابت کړی، لکه څنګه چي له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی: «كُنَّا نَعْزِلُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ» (متفق عليه)

ژباړه: «موږ به د رسول الله ﷺ د زماني په دوران کي عزل کاوه، حال دا چي قرآن نازلېده.

له بلې خوا، د مصنوعي القاح (مسئله چي د طب له پرمختګ سره رامنځته سوې، د نسب د ساتني، د حرام او حلال د تفکيک، او د اختلاطِ انسابو د مخنيوي له پلوه د اسلامي فقهي له خورا حساسو موضوعاتو څخه ده. ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي:«لا يَحِلُّ لِامْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ يَسْقِيَ مَاءَهُ زَرْعَ غَيْرِهِ» سنن أبي داود ـ محقق وبتعليق الألباني - (2 / 214)

ژباړه: «هغه کس چي پر الله تعا لي او د آخرت پر ورځې ايمان لري، ورته حلال نه دي چي خپله نطفه د بل چا په کرونده کي واچوي.»(يعني د بل سړي په ښځه کي خپله نطفه داخلول حرام دي)

له همدې امله د فقهي مجامعو لکه مجمع الفقه الإسلامي او د معاصرو علماوو له لوري د القاح مختلف ډولونه څېړل سوي، چي ځيني يې د زوجينو تر منځ د شرعي قيودو لاندي جائز بلل سوي او ځيني نور يې د شرعي نصوصو او مقاصدو له مخي په کلکه منع سوي دي.

دا علمي مقاله هڅه کوي چې د نسل تحدید، تنظیم او القاح موضوعات د قرآن کریم، سنت نبوي ﷺ، او فقهي قواعدو په رڼا کې وڅېړي، تر څو د اسلامي شریعت موقف په علمي، مستند او متوازن ډول څرګند کړي، او د انسان لپاره د شرعي لارښوونې واضح کړي.

**موخې**

زموږد څېړنې اهداف په لاندې ډول دي.

١ .د نسل د تحدید، تنظیم، اوالقاح، د مفاهیمو تشریح کول.

٢ .د قرآن کریم، او نبوي سنت ، اوفقهي، له نظره د نسل د تنظیم، تحدید، او لقاح، شرعي حکم څرګندول.

٣ .د اسلامي فقهاوو د نظرونو پرتله او د هغوی د استدلالونو شننه.

۴ .د شرعي، اخلاقي او طبي شرایطو په رڼا کې د روا او ناروا تنظیمي لارو توپیر کول.

**مواد او کړنلاره**

دا څېړنه د کتابي او تحلیلي (تحقیقي-وتوصفي) میتود له مخې ترسره سوې ده. د څېړنې بنسټ د قرآن کریم آیتونه، احادیث نبوي، د فقهاوو اقوال، او د معاصرو اسلامي مفکرینو نظریات جوړوي. د څېړنې لپاره د تفسیر، فقه، او اسلامي اخلاقو معتبر منابع څخه استفاده سوي ده.

**دڅېړنې موندنې**

**د نسل د تنظیم حکمتونه**

امام غزالي رحمه الله تعالی ب،ت. (٢۴/٢) لیکلي دي:

د نکاح پنځه ګټې دي: اولاد، د شهوت ماتول، د کور تدبیر، د خپلوانو ډېرېدل، او د نفس مجاهده د دې مسؤلیتونو په ترسره کولو کې. لومړۍ ګټه: :اولاد د نکاح اصلي مقصد دی، او د واده حکم هم پر همدې بنسټ ایښودل سوی دی. مقصد دا دی چې نسل پاتې سي او نړۍ د انسان له نوع پرته تشه نه سي. شهوة (جنسي میلان) د دې لپاره پیدا سوې چې انسان اولاد ته هڅوي؛ لکه څنګه چې د نارینه د منې د خارجېدو لپاره غریزه کار کوي، او ښځه د قبلېدو توان لري، تر څو د جماع له لارې د اولاد د ترلاسه کولو اسباب مساعد سي. دا د الله له لوري د انسان لپاره یو ډول نرمي او مهرباني ده، لکه څرنګه چې مرغان د دانې په وسیله جال ته راکاږي. د الله تعالی ازلي قدرت بالکل عاجز نه و چې انسانان له هیڅ پرته، بې د نسل او نکاح خلق کړي؛ خو حکمت دا وغوښتل چې اسباب جوړ سي او مسببات پرې مرتب سي، سره له دې چې الله تعالی بې‌نیازه دی. دا د الله د قدرت ښکاره کول دي، د مخلوق د

صنعت عجائب بشپړول دي، او د هغه د تقدیر او ازلي قلم د فیصلې تحقق دی.د اولاد په ترلاسه کولو کې څلور ډول نیکي (قُربت) سته چې دا د نکاح په ترغیب کې اصلي عوامل دي،

۱- د الله د محبت موافقت کول، ځکه د نسل ساتل د هغه د خوښې کار دی.

۲ ـ د رسول الله ﷺ د خوشحالۍ ترلاسه کول، ځکه هغه د امت په ډېرېدو افتخار کوي.

۳ ـ د صالح اولاد په دعا کې برکت غوښتل، چې د مرګ وروسته والدینو ته وررسېږي.

۴ ـ د هغه ماشوم د شفاعت هیله چې د پلار تر وفات مخکې وفات سي. (غزالي ب،ت.) ج2ص24)

د نسل تحد ید اوتنظیم موضوع کومه نوې پیښه نه وه، بلکې دا طریقه د بشر د زیاتېدو د کمولو لپاره یا د نورو علتونو له مخې لا له پخوا د یهودو په منځ کې مشهوره وه، کله چې اسلام را څرګند سو، نو د عربو په منځ کې هم ځیني داسي لاري چاري موجودې وې چې د ښځې له امیندوارېدو څخه د مخنیوي لپاره به کارېدې که هغه د منلو وړ وې یا نه وې او له هغو څخه تر ټولو مشهوره لاره عزل وه، لکن اسلامي اصول چې د ټولواصولو بنسټ جوړ سوې وه چې د جاهلیت له ډېرو مفاهیمو سره یې مخالفت درلود، نو اړینه وه چې دا پخوانی میراث او دا موضوع د اسلامي لارښوونو له مخې وڅېړل سي. ځکه د انسان د ژوند اړخونه د رسول الله ﷺ د ځانګړې پاملرنې وړ وو، او د تحد ید اوتنظیم مسئله د رسول الله ﷺ او د هغه د امت لپاره ناآشنا نه وه، بلکې د دې په اړه ډېرې پوښتني کیدې، او صحابه کرامو به د یهودو هغه نظریات چې له هغوی سره یې په مدینه کې ژوند کاوه، رسول الله ﷺ ته وړاندې کول (الطواري ب،ت.)

اولاد د انسان د زړه مېوه او د دنیا د ژوند له ښکلاوو څخه یوه ښکلا ده. ټولو خلکو، حتی انبیاوو علیهم السلام، د اولاد هیله کړې ده. همدا ابراهیم علیه السلام له الله تعالی څخه دعا کوي او وایي:﴿رَبِّ هَبْ لِي مِنَ الصَّالِحِينَ﴾ [الصافات: 100]ژباړه: ای خدای وماته صالح اولاد راکړه.

خو اولاد په عین حال کې د خپلو پلرونو په لاس کې یوه امانت هم دی، او والدین مکلف دي چې دا امانت په سمه توګه وساتي. یعني دوی ته د دین، بدن، علم او اخلاق له اړخه ښه روزنه ورکړي، او هغه مادي او معنوي اړتیاوې چې هغوی ورته محتاج وي، ورته برابرې کړي. (المؤتمر الاسلامي ب،ت.)

الله تعالی فرمایې: { يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنْفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا } [سورة التحريم: 6].

ژباړه:اې مؤمنانو! خپل ځانونه او خپلې کورنۍ د هغه اور څخه وساتئ.

الله سبحانه وتعالی فرمایې: { وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا } [طه: 132].

ژباړه:او خپل کورنۍ ته د لمونځ امر وکړه، صبر او ثابت قدم اوسئ پرلمانځه.
په حديث کي راځي: كُلُّكُمْ رَاعٍ وكُلُّكُمْ مَسْؤُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ. (البخاري ـ 1407 -ج (2 /ص 6)
ژباړه:تاسو ټول د خپلو وګړو سرپرست ياست، او هر يو به د خپلو خلکو د سرپرستی په اړه مسؤل وي.
په څرګنده معلومه ده چي اسلام د ګڼ اولاد لرلو هڅونه کوي، د ډېرو نصوصو له لارې، سره له دې چي د هغوی په ښوونه او پالنه ډېر ټينګار هم کوي. اسلام يوازې پر شمېر بسنه نه کوي، نه په ګڼوالي پرته له معنوي ځواک، بلکي معيار په اسلام کي هغه مؤمنه، صابره او قوي ډله ده. لکه څنګه چي الله تعالی فرمايي:
﴿كَمْ مِنْ فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةً بِإِذْنِ اللَّهِ وَاللَّهُ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ [البقرة: 249]
ژباړه:څومره هغه لږه ډله ده چي د الله تعالی په اجازه يې ډېره ډله ماته کړې ده، او الله تعالی د صابرو سره دی.
او يقيناً زياتوالی که له ايمان او د هغه له اسبابو پرته وي، نو ښايي بې ګټې، دروند بار او د سيلاب فاضله (غثاء السيل) وګرځي. خو اسلام پر خپلو پيروانو ټينګار کوي چي ګڼوالی د ځواک او قوت سره يو ځای کړي. څکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل:«تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّي مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ» (السجستاني ب،ت.)
ژباړه:« هغه ښځي وکړئ چي مينه ناکي او زيات اولاد راوړونکي وي، څکه زه به ستاسو په ډېر والي د نورو امتونو په وړاندي وياړ وکړم.»
خو د معاصري تمدن، صنعتي انقلاب، د علومو او ټکنالوژۍ د پرمختګ، او فزيکي او بدني ځواک پر ځای د ماشينونو موجوديت، د لويديځيانو د هوس او راحت غوښتنې، د ښځو د ظاهري ښکلا او نړيوالي هڅو، او د ديني حس د کمزورۍ — بلکي د ډېرو خلکو په ژوند کي د هغه د نشت له امله، او همدارنګه د کورنيو د ټوټې کيدو، ناوړو جنسي اړيکو، د سقط زياتوالي او د نامشروع اولادونو د ډېرېدو په نتيجه کي د نسل محدودول خورا عام سوي دي،او ډېرو مسلمانانو هم ترې اغيز اخيستی دی، په ځانګړې ډول د ښارونو خلک. له همدې امله موضوع اوس واضح او کافي بيان ته اړتيا لري. (الداغي، والمحمدي، ص 452–454)ب،ت.
د جاهليت په وخت کي خلکو خپل لوڼې ژوندی په خاوروکي پوټولي،ياد بيري دفقرڅخه، اويا د پيغورپه خاطر،خو د اسلام د مبين دين په راتګ سره دهر چا حق خوندي سو،اويابه يې عزل کاوه د فاسد غرض لپاره، چي په شريعت مقد سه کي منع ځنی راغلي ده، لکن د غرض صحيح په خاطر

لکه د مور یا د ماشوم صحت لپاره اویا د سالمي تربیې لپاره  د اولادو تر مابین فاصله د دواء ،یاطبي وسائلوداستعمال ، یادعزل په وسیله شریعت جواز ورکړی دی،لکه په لاندي نصوصو کي چي ورته اشاره سویده.

أَنَّ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ أَخْبَرَهُ أَنَّهُ بَيْنَمَا هُوَ جَالِسٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم جَاءَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا نُصِيبُ سَبْيًا وَنُحِبُّ الْمَالَ كَيْفَ تَرَى فِي الْعَزْلِ ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَوَإِنَّكُمْ تَفْعَلُونَ ذَلِكَ لاَ عَلَيْكُمْ أَنْ لاَ تَفْعَلُوا ، فَإِنَّهُ لَيْسَتْ نَسَمَةٌ كَتَبَ اللَّهُ أَنْ تَخْرُجَ إِلاَّ هِيَ كَائِنَةٌ. (البخاري (3 / 109)ـ 1407)

ابو سعید الخدري رضي الله عنه وایي: زه د رسول الله ﷺ په حضور کي ناست وم، ناڅاپه يو سړی د انصار څخه راغی او ویې ویل: ای د الله رسوله! موږ کله ناکله بندیاني (سبایا) تر لاسه کوو، او له هغوی سره د جماع مینه لرو، خو موږ عزل کوو، نو ته په دې اړه څه وایې؟ نو رسول الله ﷺ وفرمایل:ایا تاسې دا کار کوئ؟ تاسو ته هیڅ زیان نسته که دا کار ونه کړئ، ځکه هیڅ نفس (روح) نه سته چي الله تعالی یې د پیدا کیدو حکم کړی وي، مګر خامخا به پیدا کیږي.

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِىِّ سَمِعَهُ يَقُولُ سُئِلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ « مَا مِنْ كُلِّ الْمَاءِ يَكُونُ الْوَلَدُ وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ خَلْقَ شَىْءٍ لَمْ يَمْنَعْهُ شَىْءٌ»: النيسابوري ب،ت. دار الجيل بيروت

ژباړه: ابو سعید الخدري رضي الله عنه وایي رسول الله ﷺ ته د عزل په اړه پوښتنه وسوه، نو هغه وفرمایل:له هري منی څخه ماشوم نه پیدا کیږي، او کله چي الله تعالی د یو شي د پیدا کولو اراده وکړي، نو هیڅ شی یې مخه نه سي نیولی

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ أَتَى رَجُلٌ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ : يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي جَارِيَةً وَأَنَا أَشْتَهِي مَا يَشْتَهِي الرِّجَالُ وَأَنَا أَعْزِلُ عَنْهَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ وَإِنَّ الْيَهُودَ تَزْعُمُ أَنَّ الْعَزْلَ هِيَ الْمَوْءُودَةُ الصُّغْرَى فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم كَذَبَتْ يَهُودُ كَذَبَتْ يَهُودُ لَوْ أَرَادَ اللَّهُ أَنْ يَخْلُقَهُ لَمْ تَسْتَطِعْ أَنْ تَصْرِفَهُ (الشيباني [ 1400

ژباړه: ابو سعید الخدري رضي الله عنه وایي : یو سړی د رسول الله ﷺ حضور ته راغی او ویې ویل:ای د الله رسوله! زه یوه مینځه لرم، او د نورو سړیو په څېر شهوت لرم، خو له هغې سره عزل کوم، ځکه نه غواړم هغه امیندواره سي.او یهود وایي چي عزل د «کوچنی وژلې سوې نجلی» (الموءودة الصغری) په حکم. رسول الله ﷺ وفرمایل:: کې دی د یهودو خبره دروغ ده،دروغ ده که الله تعالی د یو انسان د پیدا کیدو اراده کړې وي، موږ هیڅکله نه شو کولای چي د هغه مخه ونیسو

د پور ته حديث څخه معلومه سوه چي ديهود نظريه غلطه د ه او د الله تعالی تقدير نه بد ليد ونکی دی.
عن أنس جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه و سلم يسأل عن العزل فقال : لو أن الماء الذي يكون منه الولد أهرقته على صخرة لأخرج الله منها ولدا وليخلقن الله نفسا هو خالقها (الأصبحي 1413 هـ)
ژباړه: انس بن مالك رضي الله عنه روايت کوي چي يو سړی د رسول الله ﷺ حضور ته راغی او د عزل په اړه يې پوښتنه وکړه.نو رسول الله ﷺ وفرمايل:که هغه منی چي ماشوم له هغې پيدا کيږي پر يوه ډبره توی کړم، الله تعالی به له هغې ډبرې څخه ماشوم پيدا کړي، يا الله تعالی به داسي روح پيدا کړي چي يوازې هغه خالق دی.
عَنْ جَابِرٍ أَنَّ رَجُلاً أَتَى رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فَقَالَ إِنَّ لِي جَارِيَةً هِيَ خَادِمُنَا وَسَانِيَتُنَا وَأَنَا أَطُوفُ عَلَيْهَا وَأَنَا أَكْرَهُ أَنْ تَحْمِلَ. فَقَالَ « اعْزِلْ عَنْهَا إِنْ شِئْتَ فَإِنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا ». فَلَبِثَ الرَّجُلُ ثُمَّ أَتَاهُ فَقَالَ إِنَّ الْجَارِيَةَ قَدْ حَبِلَتْ. فَقَالَ « قَدْ أَخْبَرْتُكَ أَنَّهُ سَيَأْتِيهَا مَا قُدِّرَ لَهَا ». النيسابوري ب،ت.: دار الجيل بيروت
ژباړه:جابر رضي الله عنه روايت کوي چي يو سړی د رسول الله ﷺ حضور ته راغی او ويې ويل: زما يوه مينځه ده چي زموږ د خدمتګارې او مرسته کوونکي په توګه ده، زه ورسره جماع کوم، خو نه غواړم چي اميندواره سي. نو رسول الله ﷺ وفرمايل:که وغواړې، له هغې څخه عزل وکړه، ځکه هغه څه به ورسيږي چي د هغې لپاره ټاکل سوي دي. وروسته سړي يو څه وخت پاته سو، بيا رسول الله ﷺ ته راغی او ويې ويل:مينځه اميندواره سوې ده.نو رسول الله ﷺ وفرمايل:ما وتا ته مخکي خبر درکړ چي هغې ته به هغه څه ورسيږي چي د هغې لپاره ټاکل سوي دي.
د ا حديث شريف هم دلا لة پرد ي کوي چي د الله تعالی تقد ير نه بد ليږي.

**د نسل د تنظيم علتونه**

د ښځي څخه د عزل د کولو اويا د حمل د مخنيوي لپاره د طبي عصري وسايلو په کارولو سره د استعمال څو بېلابېل علتونه سته، چي موږ يې دوه برخې ته وېشو
لومړۍ برخه: مشروع يا د شريعت له مخي روا علتونه، دا څلور دي.
**لومړی علت** د دې ناخوښي چي له يوې مملوکي (ښځي ) څخه مريی اولاد پيدا سي.
دا ممکن د دې لپاره وي که هغه ښځه د هغه له ولادت وروسته أمّ ولد (د ماشوم مور) سي، نو بيا به د هغې خرڅه ول ستونزمن سي او يا هم د نورو ورته علتونو له امله. الطواري ،ب،ت.

**دوهم علت** دا چي ښځه امیندواره نه سي پداسي حال کي چي هغه ماشوم ته شیدې ورکوي، ځکه دا کار د شیدې خوړونکي ماشوم لپاره زیان لري. الطواري ،ب،ت.

د دې دواړو علتونو لپاره د امام مسلم په روایت کي د ابو سعید الخدري رضي الله عنه له حدیثه دلیل راغلی دی: هغه وايي: د رسول الله ﷺ په حضور کي د عزل یادونه وسوه، نو رسول الله ﷺوپوښتل:دا څه شی دی؟ اصحابو وویل: سړی له خپلې ښځي سره جماع کوي، چي شیدې ورکوي، خو نه غواړي چي هغه امیندواره سي؛ او سړی له خپلې مینځي سره جماع کوي، خو نه غواړي چي هغه امیندواره سي. نو رسول الله ﷺ وفرمایل:که دا کار ونه کړئ، تاسو ته څه ضرر نسته، ځکه دا ټول د تقدیر له مخي دي. النیسابوري ب,ت - (4 / 159)

**دریيم (مشروع علت)**

کله چي ښځه ناروغه وي او د امیندوارۍ توان ونه لري، نو مېړه يې د هغې د رحم، بدن او روغتیا د ساتني لپاره له هغې څخه عزل اویا عصري طبي وسائل استعمال کوي .یا دا چي ښځه ډېره ځوانه (کم عمره) وي، یا د هغې د رحم اندازه کوچنۍ وي، او د حمل په صورت کي د هغې مرگ یا دائمي ناروغي خطر وي.همدارنگه که ښځه د کوم مزمن یا عام ناروغۍ له امله د امیندوارۍ توان نه لري، او امیندوارۍ د هغې د ناروغۍ د زیاتېدو یا د خطرناکو عواقبو لامل گرځي، نو د دې له امله هم عزل روا دی، ځکه دا د رحمت او شفقت له مخي کیږي. الطواري ،ب،ت.

**څلورم (مشروع علت)**

که ښځه ډ پره ژر ژر امیندواره کیږي، نو د دې لپاره چي هغه وکولای سي خپل ماشومان روزنه او پالنه وکړي، مېړه يې له هغې څخه عزل کوي، اویا عصري طبي وسائل استعمال وي څو د ماشومانو د روزني لپاره مناسب وخت ولري. الطواري ،ب،ت.

**پنځم (مشروع علت)**

إن خاف من الولد السوء في الحرة يسعه العزل بغير رضاها لفساد الزمان (رد المحتار - (10 / 242)

که بیره وه چي ولد به فا سد سي عزل ورته روادی د زما ني د فسا د له و جهي.

**غیرمشروع علتونه**

دا هغه وخت دی چي یو څوک له خپلې ښځي څخه د دې له امله عزل کوي یا عصري طبي وسائل استعماله وي چي د اولاد د زیاتېدو له کبله د فقر یا تنگ دستۍ وېره لري، ځکه چي د ډېرو ماشومانو

ساتنه او لگښتونه پرې درانه دي.دا ډول عقیده او عمل شرعاً ناروا دی، ځکه الله تعالی د هر مخلوق رزق او روزي په خپله ذمه اخیستي ده، الطواري ،ب،ت.(۴/۱)

لکه څنگه چي الله تعالی فرمايي: وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا [هود : 6)

يعني: په ځمکه کي هيڅ ژوی نسته، مگر د هغه رزق د الله تعالی په ذ مه دی

د پور ته آيات کريمه څخه معلومه سوه که د فاسد غرض لپاره لکه (فقر، ياعار) عزل کوي يانور د حمل د مخنيوي وسائل استعماله وي جواز نلري، البته که د صحيح غرض لپاره وي لکه دمور اويا ماشوم د صحت په خاطر مثلا بيا جواز لري.

او الله تعالی د هغو خلکو له کړنو نهی کړې ده چي د فقر له وېرې به يې خپل اولادونه وژل، لکه څنگه چي الله تعالی فرمايي:: ولا تقتلوا أولادكم خشية إملاق نحن نرزقهم وإياكم إن قتلهم كان خطأً كبيرا(سورة الإسراء، آيت ۳۱( يعني: تاسو خپل اولادونه د فقر له وېرې مه وژنئ، موږ هغوی ته او تاسو ته روزي ورکوو، بېشکه د هغوی وژل لويه گناه ده.

نو له پورته بيان څخه څرگنديږي چي د عزل او دحمل دمخنيوي لپاره هم مشروع (روا) علتونه سته او هم فاسد (ناروا) علتونه ، لکه څنگه چي مخکي يې تفصيل بيان سو(المؤتمر الاسلامي ب،ت.)

**تنظيم د نسل**

تنظيم په لغت کی د ملغلروپيود لوته وايی اومجازا دښارامورمنظم کولوته وايی(غياس الغات(ج ۱)ص۱۶۸)

نسل په لغت کی انفصال(يعني جلاوالی) ته وايی (المذکور(ص۹۵۸) لکه چی الله تعالی فرمايی: وهم من كل حدب ينسلون ( الانبيآءايات (۹۶)

«تنظيم» څخه موخه ده: منظمول او ترتيبول، او «نسل» څخه مراد اولاد، ذريه او اولنی نسل دی. ويل کيږي: تناسل القوم يعني د خلکو نسل ډېر سو او ذريه يې زياته سوه. (داغي او المحمدي ب،ت.)ص۴۵۴)

په معاصر اصطلاح کي د نسل له تنظيم څخه مراد دا دی چي د يوه حمل او بل حمل تر منځ د نظم لپاره ځانگړي تدابير ونيول سي. په بله وينا: دا د حمل د موقتي مخنيوي لپاره د موجودو طبي وسايلو په کارولو سره يو ډول وقايوي عمل دی. (داغي او المحمدي ب،ت.)ص۴۵۴)

دا تنظيم کله د نسل د کمولو لپاره وي، کله د مور د ساتني او د هغې د روغتيا د خوندي کولو لپاره وي، او کله د دې لپاره وي چي والدينو ته داسي فرصت برابر کړي چي د خپلو اولادونو د پالنې او

روزني حق په ښه ډول ترسره کړي، يعني د دوو حملونو تر منځ د مودې په اوږدولو سره. (داغي او المحمدي ب،ت.)ص ۴۵۴)

دا کار د «عزل» (منی ایستل) په وسیله کیدای سي، یا د حمل د مخنیوي له کومې موقتي طریقې څخه په ګټې اخیستنې سره لکه درمل (ګولی)، ځانګړي خنډونه، ، او نور دې ته ورته وسایل. (داغي او المحمدي ب،ت.)ص ۴۵۴)

عزل د حمل د تنظیم له هغو لارو څخه دی چې کارول کیږي. کله چې میړه له خپلې ښځې سره یو ځای کیږي، نو د انزال پر مهال خپل منی د ښځې له فرج (یا د هغې له تناسلي جهاز) څخه بهر غورځوي. د دې کار موخه دا ده چې د منی نارینه نطفې (منوي حجرې) ښځې د ښځینه نطفې (هګۍ) ته چې د ښځې د تخمدان په لوله کې وي، ور ونه رسیږي، څو حمل واقع نه سي. (الیحیی ب،ت.)

**د نسل د تنظیم شرعي حکم**

د زیږون د تنظیم لپاره د ګولیو خوړل او د بندښت (انسداد) وسایلو کارول منع نه دي ؛ که دا دواړه د میړه او ښځې په مشورة، او د اړتیا پر وخت وکارول سي لکه د ناروغۍ، ضعف، ناوړه ګډ ژوند (بد معاشرت) او ورته نورو حالاتو کې—خو د فقر او اقتصادي ویرې (اِملاق) له امله باید نه وي. محمد فرید ، ج ٦، ص )۱۳۷ت۱۴۳۲) (عبد الحق ، ج ۴، ص ۱۲۵)ت۱۴۳۱) (رضاءالحق ، ج ۴، ص ۳۵۰ ( ت۱۴۳۵) الزُّحَيْلِيّ( ۷ / ۱۴۸)

عزل هغه وخت مباح دی چې ښځه اجازه ورکړي، او که اجازه ورنه کړي نو مباح نه دی. دا د جمهور فقهاوو (حنفي، مالکي، د شافعي یو قول، او حنبلي) نظر دی.د حنفي فقهاوو ځیني کتابونه د هغو حالتونو ذکر کوي چې په هغو کې میړه د ښځې له اجازې پرته عزل کولی سي.په «الخانية» کې راغلي: « زموږ په زمانه کې عزل مباح دی، د زماني د فساد له امله.» علامه کمال بن الهمام ویلي: دا دې باید عذر وبلل سي چې د هغې(ښځې) د اجازې شرط لرې کوي. ابن عابدین پرې تبصره کوي او وایي: «کمال بن الهمام دا عبارت ویلي دی.» او په فتاوی کې راغلي: که له خپل آزاد ښځې څخه د بد اولاد ویره وي، نو د هغې له رضایت پرته عزل کول ورته روا دي، د زماني د فساد له امله. نو دې ته ورته عذرونه هم باید د اجازې ساقطوونکي وبلل سي. (المؤتمر الاسلامي ب،ت.)

او د ده دا خبره چې نور دې ته ورته عذرونه... دا احتمال لري چې هغه داسې عذرونو ته اشاره کوي: لکه سړی په لرې سفر کې وي، یا د جګړې په سیمه کې وي او د اولاد د اسیر کیدو ویره وي، یا دا چې ښځه بده خویه وي او سړی غواړي ترې جلا سي، نو ویریږي چې چیرې حمل واقع نه سي. نو هغه

عذرونه چې د حنفي فقهاوو ځینو د ښځې د اجازې د شرط د ساقطېدو لپاره یاد کړي، په دوو برخو کې راځرخي:لومړی هغه عذر چې عام وي؛ لکه دا چې وخت فاسد وي او د داسې فاسد چاپېریال له امله د اولاد له زیږون څخه وېره موجوده وي، یا دا چې دواړه د جګړې په سیمه کې وي او د ماشوم د اسیر کېدو ویره وي. او د آزادو ښځو په اړه: د ښځې د ښکلا او رغیدلتوب د پاتې کېدو لپاره چې تل ترې خوند واخستل سي، یا د هغې د ژوند د ساتنې لپاره (عزل کول روا دي)، همدارنګه د اولاد نود زیاتوالي له امله چې د صحی تربیې نه کولوبیره یي وي. خو دا چې څوک د لوږې له پیدا کېدو وېرېږي، د دې په ګومان چې دوی واده کولو ته د عار سبب کیږي، اویاد فقر په خاطر،دا فاسد نیت دی او په هغه کې ګناه سته. (المؤتمر الاسلامي ب،ت.)

**د نسل تحدید**

د «تحدید النسل» نه مراد دا دی چې مېړه او ښځه داسې ځانګړې کړنې تر سره کړي چې امیندواری په بشپړه ډول مخنیوی وکړي، یا یې په یوه، یا دوه اولادونو محدود کړي (داغي او المحمدي، ب،ت. (ص–55 4)

**د نسل د تحدید حکم**

تحدید په دائمي توګه داولاد مخه نیولوته وایی او داکارپه شریعت کی حرام دی (رضاءالحق)ج۴)ص ۳۵۲) ت۱۴۳۵

قَالَ رسول الله ﷺ « تَزَوَّجُوا الْوَدُودَ الْوَلُودَ فَإِنِّى مُكَاثِرٌ بِكُمُ الأُمَمَ ».(السجستاني ب،ت) - (2 / 175)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:«د ډېرو اولادونو لرونکې او مینه ناکې ښځې سره نکاح وکړئ، ځکه زه ستاسې په ډېر شمېر پرامتونو فخر کوم.

شاه ولي الله دهلوي رحمه الله داسي وضاحت کوي  دا د الله د خلقت بدلون دی او  دا دخصي کولو مترادف عمل دی، ( ولي الله ج۲ص۱۲۳)

د دی نه علاوه دی د هیئة العلماء سعودی دیومجلس فیصلة هم وکتل سی  چې اوسني ډاکټران د نسل د محدودولو لپاره د نسل د قوې د ختمېدو په موخه ځیني  رګونه پرې کوي، په داسې حال کې چې د جماع ځواک (شهوت او مقاربت) پاتې وي، نو په دې کار کې د حرمت هیڅ شک نسته. دا ځکه چې دا کار د عزل  سره هېڅ ډول قیاس کیدلی نه سي؛ ځکه د دواړو ترمنځ لوی فرق سته.عزل یو ظني سبب دی (یعني د حمل د نه پیدا کېدو امکان پکې یقیني نه دی)، خو د رګ پرې کول د حمل د مخنیوي

یو قطعي سبب دی، چې له هغه وروسته بلکل حمل نه کیږي او فاعل ته د اولاد په پیدا کیدو کې هېڅ اختیار نه پاتې کیږي. محمد فرید، ج ٦، ص ۱۳۸.)

۲ ـ د مېره یا ښځې د اولاد راوړلو د وړتیا له منځه وړل، چې په «اعقام» یا «تعقیم» سره پېژندل کیږي، حرام دي؛ مګر هغه وخت چې شرعي معیارونو له مخې حتمي اړتیا موجوده وي. الزُّحَيْلِيّ( ۷ / ۱۴۸)

له همدې امله په بشپړ اطمینان سره ویل کیدای سي چې د معاصري زماني د هغو خوندي حمل-مخنیوي طبي وسایلو کارول چې ضرري پایلي نه لري، او د باور وړ ډاکټر په مشوره تر سره سي، د هغو ناروغیو د مخنیوي لپاره چې له حمل سره تړاو لري—له اسلامي نظره په کي کوم مشکل نسته. بلکي د ځینو حالتونو د خطرونو د مخنیوي لپاره کله ناکله ضروري هم ګرځي. تحدید د نسل: ( الطواري ب،ت.)

**د نسل د تنظیم او تحدید تر منځ فرق**

تنظیم د نسل د محدودولو، د تعقیم څخه توپیر لري؟

په ساده ډول دا دی: د کورنۍ تنظیم معنا دا ده چې میړه او ښځه د خپل اختیار او قناعت له مخې هغه لارې او وسیلې غوره کړي چې د حمل د رامنځته کیدو ترمنځ د فاصلې په زیاتولو کې، یا د یوې ټاکلې مودې لپاره د حمل په درولو کې اغېزمنې وي، او دواړه پرې موافق سي. د دې مقصد دا دی چې د کورنۍ د افرادو شمېر په داسي کچه کم وساتل سي چې والدین وکولای سي خپل اولاد په بشپړه توګه، له ستونزو، او ناوړه اړتیاوو پرته وروزي او ښه پالنه یې وکړي. او د دې سره د نسل له محدودولو، تعقیم سره لوی توپیر سته؛ ځکه نسل محدودول په دې معنا چې په مطلق او دایمي ډول د نسل بندول، شرعًا حرام دي. همدارنګه تعقیم چې د نسل د اسبابو د تل لپاره له منځه وړل دي، په همدې حکم برابر دی. (المؤتمر الاسلامي ب،ت.)

**مصنوعي القاح**

دا د دې عمل نوم دی چې د ښځې رحم ته د سړي مني د جماع پرته داخل کړل سي.

که نطفه د پردي سړي وي نو دا کارحرام دی، او پیدا سوی ماشوم ولد زِنا ګڼل کیږي.د روَیفع بن ثابت رضي الله عنه له حدیث څخه دلیل راوړل سوی:رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هغه چا لپاره چې په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري روا نه دي چې د خپل اوبو تخم د بل چا په کرونده کې واچوي ( رواه أبو داود)

که ښځه نکاح نه لري ، ماشوم د مور سره منسوب کیږي.که ښځه نکاح ولري، ماشوم د خاوند سره منسوب دی؛ ځکه چې شرعي قاعده ده:الولدُ للفِراش» ماشوم د واده او بستر مالكَ ته اړه لري.که د

خاوند نطفه د څو درملو سره ګډه سي او د هغه د خپلې ښځي رحم ته واچول سي نو په دې کي شرعي مانع نسته د دې طريقې جواز يوازې په لاندي شرطونو کي دی:

.1 نطفه به د ښځي د خپل خاوند وي. عبد الحق ج۴، ص۱۲٦(ت ۱۴۳۱)محمد فريد ج٦، ص ۱۴۱–(۱۴۳۲)

.2 مېړه او ښځه دواړه به پرې رضا وي. عبد الحق ج۴، ص۱۲٦(ت ۱۴۳۱)محمد فريد ج٦، ص ۱۴۱–(۱۴۳۲ت)

.3 ټول عمل به د دواړو په موجوديت کي ترسره کيږي. عبد الحق ج۴، ص۱۲٦(ت ۱۴۳۱)محمد فريد ج٦، ص ۱۴۱–(۱۴۳۲ت)

دا عمل به کوم مستند مسلمان ډاکټر تجويز او اجرا کوي .4 عبد الحق ج۴، ص۱۲٦(ت ۱۴۳۱)محمد فريد ج٦، ص ۱۴۱–(۱۴۳۲ت)

که د خاوند او خپلې ښځي نطفې ګډې سي، خو د بلې (پردۍ) ښځي په رحم کي په اجاره کي کېښودل سي؟ که څه هم په دې طريقه ماشوم مور او پلار ته منسوب کيږي، خو شرعاً دا طريقه ناجائزه ده د دليل لپاره الله تعالى فرمايي ﴿نِسَاؤُكُمْ حَرْثٌ لَكُمْ فَأْتُوا حَرْثَكُمْ أَنىّٰ شِئْتُمْ ﴾البقرة: ۲۲۳)

يعني ښځي ستاسو د کښت ځای دی؛ خپل کښت ته هر څنګه چي وغواړئ ورسی

او په دې کي د اجارې پر رحم پردۍ ښځي ته د حمل انتقال کول نه راځي. (عبد الحق ج۴، ص ۱۲۹)

دښځي فرج په خواست اواجارة نه اخيستل کيږي.(السيوطي ج٦ص۵) الزحيلي – (۴ / ۱۹۸)

زرع الغدة التناسلية (الخصية أو المبيض): يعني د تخم کرل( مجلة مجمع الفقه الإسلامي - (6 / 1640) دا ستونزه د دانو (مبيض) کرلو سره ورته ده. که د بيضې کرل په داسي سړي کي وشي چي اولاد نه شي راوړلای، نو د هغه مني به د بل سړي وي. دا يو ډول نکاح دی چي د زنا په څېر دی، ځکه اصلي نطفه د بل سړي ده. (المؤتمرالاسلامي – (۲ / ۱۹۳) دا حالت د مصنوعي لقاح (التلقيح الصناعي) سره د نامحرم سړي د مني په کارولو ورته والی لري.(المؤتمرالاسلامي – (۲ / ۱۹۳) فقيهانو (د مکي مکرمې فقهي مجمع، د کويت د نسل د کنفرانس، د مصر مفتي، د تونس مفتي) پرې فتوا کړې چي د داسي لقاح کول حرام دي، ځکه د زنا شبهه پکي شته، او د دې عمل په هر ګډونوال بايد تعزير (شرعي جزا) تطبيق سي. (المؤتمرالاسلامي – (۲ / ۱۹۳)

**د تلقيح څلور صورتونه دي.**

۱- د مېړه مني د خپلې ښځي رحم ته داخلول: (المؤتمرالاسلامي– (۲ / ۱۹۹)

په شریعت کې پکې هېڅ ستونزه نشته، که چیرې شخص ډاډ ترلاسه کړي چې د مني سره د بل سړي مني ګډه نه سوې وي، لکه څنګه چې په ځینو سوداګریزو لابراتوارونو کې ترسره کیږي. (المؤتمرالاسلامي- (۲ / ۱۹۹)

۲- د نامحرم سړي مني د ښځې رحم ته داخلول: (المؤتمرالاسلامي- (۲ / ۱۹۹)

دا عمل په اسلام کې حرام دی، خو په غربي هېوادونو کې روا ګڼل کیږي. (المؤتمرالاسلامي- (۲ / ۱۹۹)

۳- د مېړه مني د بلې ښځې رحم ته داخلول: (المؤتمرالاسلامي- (۲ / ۱۹۹)

دا ښځه حامله کیږي او ماشوم زیږوي، بیا د ماشوم حق میړه ته ورکوي په بدل کې د پیسو اخیستلو سره. دا لاره هم په اسلام کې حرامه ده، خو په غربي هېوادونو کې بې له کوم حرج ترسره کیږي. (المؤتمرالاسلامي- (۲ / ۱۹۹)

۴- د نامحرم سړي مني د یوې ښځې رحم ته داخلول او د پنځمې ورځې په جریان کې د رحم مینځل که د زیږجوت (لوبیا شوې هګۍ) موندل سي، نو بیا دا د بې اولاده ښځې رحم ته کرل کیږي. دا طریقه هغه وخت کارول کیږي چې مېړه او ښځه دواړه بې اولاده وي، خو د ښځې رحم سالم وي، او امکان لري چې د لقاح سوې هګۍ قبلول ممکن وي.په اسلام کې په دې هم هېڅ شک نسته چې حرامه ده، خو په غربي هېوادونو کې روا ګڼل کیږي.(المؤتمرالاسلامي- (۲ / ۱۹۹)

**مناقشه**

په دې څېړنه کې څرګنده سوه چې د نسل تحدید (د اولاد کمول یا بندول) او د نسل تنظیم (د اولاد تر منځ مناسب واټن ساتل) د اسلام له نظره دوه بېلابېل موضوع ګاني دي. اسلام د نسل تحدید، چې هدف یې د نسل ختمول او د الله تعالی د خلقت د سنت مخالفت وي، په کلکه رد کړی دی، ځکه قرآن کریم فرمایي:

»وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ، نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ« (الإسراء: 31)

یعني د فقر له وېرې خپل اولاد مه وژنئ، موږ هغوی او تاسو ته رزق ورکوو.

دا آیت څرګندوي چې د رزق وېره یا اقتصادي ستونزه د اولاد بندولو یا له منځه وړلو شرعي دلیل نه سي کیدای.

خو له بل اړخه، د نسل تنظیم چې هدف يې د مور د روغتیا، د ماشوم د ښه روزني او د کورنۍ د ثبات لپاره د اولاد تر منځ مناسب فاصله وي، د اسلامي فقهې له نظره په مشروط ډول جواز لري. ډېری فقها لکه امام غزالي، ابن عابدین او معاصر علما د دې اجازې قایل دي، خو د دوو شرطونو سره:

1.دا عمل د موقتي اړتیا لپاره وي نه د دایمي منع په نیت.

2.د دواړو مېړه او ښځې تر رضایت او مشورې وروسته ترسره سي.

اسلام د امت د کثرت او قوت تشویق کړی دی، رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

»تناكحوا تناسلوا فإني مباه بكم الأمم يوم القيامة

یعني واده وکړئ او نسل زیات کړئ، ځکه زه به ستاسو په ډېروالي د امتونو په وړاندې فخر کوم.

په همدې اساس، د نسل تحدید هغه وخت حرام دی کله چې د الله د تقدیر او رزق پر وعدې بې‌باوري وي، خو د نسل تنظیم د مصلحت او مؤقت ضرورت له مخې روا ګڼل کیږي.

په معاصر وخت کي، د طب او روغتیا له اړخه د تنظیم وسایل که د بدن ضرر ونه لري او د شرعي اصولو سره سم وي، نو د اسلامي علماوو له نظره يې کارول د اضطراري حالت یا مشروع ضرورت په صورت کي جواز لري.

نو په پای کي د دې مناقشې لنډه پایله دا ده چې:

اسلام د نسل د مطلق بندېدو مخالف او د نسل د مؤقت تنظیم اجازه ورکوي، خو یوازې د مشروع مقاصدو، روغتیايي اړتیا او د دواړو لوریو په رضایت سره.

په دي حقله نوري څېړني هم تر سره سوي دي لکه د قره داغي اوداسي نور ي خو په هغه مقالوکي پریوه مسئلة بحث سوی وو،

مونږ په خپله مقالة کي دري مسئلي د ټولني د ضرورت په خاطر څېړلي دي.

**پایله**

د څېړني پایلي څرګندوي .د نسل د تحدید، تنظیم، اوالقاح، مفاهیم تشریح سوي، اسلام د نسل د تحدید او تنظیم په اړه د منځلارې تګلارې ملاتړ کوي. د قرآن او سنت له مخي د اولاد روزنه، د مور د صحت ساتنه، او د ژوند د اسانتیاوو برابرول مشروع اهداف دي، خو که نیت د الله تعالی له تقدیر څخه تېښته، د فقر وېره، یا د اولاد د کرکي پر بنسټ وي، نو دا کار شرعاً ناروا دی اسلام د موقتي او مشروع وسایلو لکه د حمل موقتي مخنیوي اجازه ورکوي، خو د دایمي عقیم کولو یا د نسل د بشپړ بندیز سخت مخالفت کوي همدارنګه، د القاح (مصنوعي القاح) په مسئله کي څېړنه دې نتیجې ته

ورسېده چي كه القاح د قانوني مېړه او مېرمنې ترمنځ، د نكاح په چوكاټ كي، او د نسب د اختلاط له هر ډول احتمال څخه خوندي ترسره سي، نو دا په اصل كي جواز لري؛ خو كه په كي د اجنبي نطفې استعمال، د رحم كرايه، يا د نسب اختلاط موجود وي، نو دا د شريعت له نظره حرام او ممنوع ګڼل كيږي، ځكه چي دا د نسب د تحفظ له اصل سره په ټكر كي واقع كيږي په پايله كي ويلای سو چي اسلام د ژوند په ټولو چاروكي د اعتدال لار ښووي، او د نسل تنظيم هم بايد د همدې توازن او د الله تعالی د رضا له مخي ترسره سي، څو د امت بقا، د ټولني سوكالي، او د فرد د ديني مسؤليت ترمنځ تعادل وساتل سي په ټوله كي اسلام نه د نسل د بي قيد زياتوالي پلوی دی او نه د مطلق بندولو، بلكي د اعتدال، مسؤوليت، او مشروع مصلحت اصل غوره كوي. نو ځكه معاصري طبي لاري چاري بايد د شريعت له ضوابطو، اخلاقي اصولو، او د نسب د ساتني له مقاصدو سره سم وكارول سي.

**اخځليكونه**

١.قرآن كريم.
٢ .ابن عابدين، محمد امين بن عمر. (ب.ت). رد المحتار على الدر المختار (مرقم آلياً.(
٣ .ابن حزم، علي بن احمد. (ب.ت). المحلّى
٤ .آل علاق، محمد محروس. (ب.ت).كتاب الإجهاض.
٥ .ابو داود، سليمان بن الأشعث السجستاني. (ب.ت). سنن أبي داود بيروت: دار الكتاب العربي.
٦ .البخاري، محمد بن إسماعيل. (١٤٠٧هـ). الجامع الصحيح (صحيح البخاري). قاهره: دار الشعب.
٧ البيهقي، احمد بن الحسين. (١٤١٢هـ). معرفة السنن والآثار. كراچي: جامعة الدراسات الإسلامية؛ حلب: دار الوعي؛ دمشق: دار قتيبة.
٨ .الترمذي، محمد بن عيسى السلمي. (ب.ت). الجامع الصحيح (سنن الترمذي). بيروت: دار إحياء التراث العربي.
٩ .الشاذلي، حسن علي. (ب.ت). د نسل تنظيم يا تحديد په فقه اسلامي كي. مجلة مجمع الفقه الإسلامي، ٥، ٤٩-.
١٠ .السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر. (١٤٢٤هـ/ ٢٠٠٣م). الدر المنثور في التفسير بالمأثور. قاهره: دار هجر.
١١ .الغزالي، محمد بن محمد أبو حامد. (ب.ت). إحياء علوم الدين. بيروت: دار المعرفة.
١٢ .الغياثي، محمد غياث الدين. (ب.ت). غياث اللغات. لاهور: امير حمزه كتب خانه.
١٣ .الفقه الإسلامي، مجمع. (١٤٢٨هـ). قرارات وتوصيات مجمع الفقه الإسلامي (له لومړی تر اتلسمې دورې). ترتيب: جميل ابو ساره. جده: منظمة المؤتمر الإسلامي.

١٤ .لجنة علماء برئاسة نظام الدين البلخي. (ب.ت). الفتاوى الهندية.
١٥ .دارالعلوم زكريا. (١٤٣٥هـ). فتاوى دارالعلوم زكريا. كندهار: مكتبة رشيدية.
١٦ .الدهلوي، احمد بن عبد الرحيم (شاه ولي الله). (ب.ت). حجة الله البالغة. تحقيق: سيد سابق. قاهره-بغداد: دار الكتب الحديثة، مكتبة المثنّى.
١٧ .الزحيلي، وهبة. (ب.ت). الفقه الإسلامي وأدلته. دمشق: دار الفكر.
١٨ .الزروبوي، محمد فريد. (ب.ت). منهاج السنن شرح الترمذي. اكوړه ختټک: دارالعلوم الحقانية.
١٩ .الزروبوي، محمد فريد. (١٤٣٢هـ). فتاوى فريدية. اكوړه ختټک: دارالعلوم الحقانية.
٢٠ .الطواري، طارق محمد. (ب.ت). العزل عن المرأة: دراسة شرعية وطبية. كويټ: جامعة الكويت، كلية الشريعة.
٢١ .القره داغي، علي محيي الدين، او المحمدي، علي يوسف. (ب.ت). القضايا الطبية المعاصرة: دراسة فقهية طبية مقارنة.
٢٢ .مالك بن انس. (١٤١٣هـ / ١٩٩١م). موطأ مالك (رواية محمد بن الحسن). تحقيق: تقي الدين الندوي. دمشق: دار القلم.
٢٣ .مجلة البحوث الإسلامية. (ب.ت). مجلة البحوث الإسلامية. رياض: الرئاسة العامة لإدارات البحوث العلمية والإفتاء والدعوة والإرشاد.
٢٤ .مجلة مجمع الفقه الإسلامي. (ب.ت). مجلة مجمع الفقه الإسلامي (ېلابېل شمېرې). جده: منظمة المؤتمر الإسلامي.
٢٥ .مسلم، ابو الحسين بن الحجاج النيسابوري. (ب.ت). الجامع الصحيح (صحيح مسلم). بيروت: دار الجيل.
٢٦ .المظهري، محمد ثناء الله العثماني. (١٤١٢هـ). التفسير المظهري.
٢٧ .الحقاني، عبد الحق. (١٤٣١هـ). فتاوى حقانية. كويټه: مكتبة رشيدية..

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Helmand University

# Leed Social Science Academic Journal

Volume:2 Issue: 2 Year:1404